# د استعاراتي ژبې استعمال: په جنوبي پښتونخواه کښې د پښتنو دجرګې نظام مطالعه

# METAPHORIC LANGUAGE USE: *A STUDY OF PASHTOONS' JIRGA SYSTEM IN SOUTHERN PASHTOONKHWA*

1-Hafeez Ur Rehman Dauran
Department of Pakistani Languages, National University of Modern Languages, Islamabad
Phone # 03003819934
E-mail: **hafeezur.rehman@numl.edu.pk**
2-Dr.M. Farooq Anjum
Assistant Professor
Department of Pakistani Languages, National University of Modern Languages, Islamabad
Phone # 03445219018
E-mail: **farooqanjumpashtonuml@gmail.com**

Issn 2304-1463

## Abstracts:

Cultural processes have always been contributory in shaping people's particular demeanor and point of view. My approach is quite similar to other researchers but my framework is different. My work focuses on metaphorical language used in "Jirga", an element of unwritten code of life, Pashtunwali, which the Pashtuns have been practicing for centuries. This code strictly guides the lives of Pashtun people living in Afghanistan, Khyber Pashtunkhwa, and Pashtoon belt of Balochistan known as Southern Pashtunkhwa in Pakistan. By using the framework of Pashtunwali, this article provides a new perspective of metaphorical language used in "Jirgas". As a creative act how cultural processes gets through a persistent process of construction and deconstruction in one of the prime themes that has been discussed in this paper. In the first part of the paper, the researchers have carried out extensive epistemological overview to understand and articulate the fundamental concepts and dominant theories in the discourse. While in the second part an in-depth analysis has supported concurrent parameters and solid language that influences cultures and traditions. How these metaphors fit into the tradition of Pashtoonwali; the unwritten code of Pashtuns is one of the main question, the paper unfolds.

**Key words:** Jirga, Pashtunwali, Culture, Language and Customary Law.

## 1 د مقالې پس منظر (Background of the Study):

د پښتو کلتور په اړه ډېر کار شوی دی چې پکښې جرګه، مرکه، ننواتې، بدله، پېغور، روغه جوړه او د پښتونولۍ نور عناصر شامل دي- بلې خوا ته که مونږ ژبپوهنې ته اوګورو، نو د پښتو ژبې دې اړخ ته ډېره کمه پاملرنه شوې ده- که څه هم په دې اړه لږې څېړنې شوې دي، خو په دې ساحه کښې ډېر داسي اړخونه شته چې تر اوسه پورې لاس نه دي وړغلي- د جنوبي پښتونخوا په استعارو باندې، په ځانګړې توګه په جرګه کښې د استعمال شوؤ استعارو په اړه چا سم تحقیق نه دی کړی- مونږ هڅه کړې ده چې د جنوبي پښتونخوا په مختلفو سیمو کښې پلي شوؤ جرګو کښې د استعاري ژبې په اړه څېړنه اوکړو- دا کار د هر محقق لپاره ډېر ستونزمن دی، خو مونږ ئې د ځان لپاره په دې وجه اسانه ګڼو چې له دې سیمې سره تړاو لرو او زیاتره ژوند مو په یوې قبائلي ټولنه کښې تېر شوی دی- د دې کار سرته رسول ستونزمن ډېر دي خو ناشونی نه دی-

په دې مقاله کښې به لسانیات او ادبیات دواړه څېړل کېږي، په کوم کښې چې دکلتوري استعارو په ترتیب راوړل، تحلیل کول او مطلب بیانول شامل دي- د دې تشریحي څېړنې موخه دا ده چې د ژبې، کلتور او استعارو پورې اړوند متغیراتو ته پام لرنه وشي –او په ځانګړې توګه هغه استعارې څرګندې کړلې شي،او د دوې رول تحلیل کړل شي کومې چې د سوېلي پښتونخوا په پلي شوو جرګو کښې کارول کېږي - دا مقاله د کلتور او ژبې تر منځ پېچلې اړیکې څېړي- "کلتور" او "د وینا غړي (Organs of Speech)" دواړه د څېړنې لپاره خورا پراخ موضوعات دي او په اړه ئې ډېر کار کېدے شي- ما هڅه کړې ده چې دا څېړنه تر هغه استعارو پورې محدوده وساتم چې د سوېلي پښتونخوا د جرګو غړې ئې د پرېکړو لپاره کاروي- یاده مقاله د شرائطو او حوالو سره د دې استعارو هر اړخیزه کتنه وړاندې کوي-

څېړنکار د معیاري څېړنې ډیزاین په کار اچوي، او د کلتوري استعارو په اړه د معلوماتو، اشخاصو د تجربو او انګېرنو(مفکورو) سپړلو لپاره فانومېنولوژیکي طریقه (phenomenological approach) استعمالوي-

## 1.1 کلتور (Culture):

نړۍ چې کله په وجود کښې راغله، او انسانان د ځمکې په مخ خواره شو، نو دوي ته د بقاء ستونزه پېښه وه- د دې د پورا کولو په خاطر ئې منډې تړړې وهل شروع کړل- اول ئې زياتې هڅې د خوراک او څښاک دپاره کولې، او دژوند تېرولو طريقې ئې هم ډېرې ساده وې- بيا ئې ورو ورو د ژوند تېرولو نور چلونه هم زده کړل- په دې لړ کښې ئې د ډېرو سختو حالاتو مقابله وکړه- له ډېرو تجربو پس انسانان ددې جوګه شو چې د ښه ژوند دپاره څه اصولونه و ټاکي- د دې ګټه د دوي راتلونکو نسلونو ته هم رسېږي- لکه څنګه چې د وخت تېرېدو سره د انسانانو ضرورتونه بدل شو، دغه شان دا اصول هم د وخت تېرېدو سره بدل شوي او بيا ئې ښه په زړه پورې بڼه اخيستې ده- دا قواعد په بېلابېلو نومونو ياد شوي، مګر ترټولو وروستے او منل شوے نوم ئې کلتور دے- اوهغه کړنې چې په ټولو پښتنو کښې يو شان په نظر راځي، د پښتنو دود او دستور بلل کېږي- په دې کښې هغه دودونه او رواجونه دي چې هغه په ټولو پښتنو کښې د يو دستور او قانون حکم لري- د دې په ځا ے کول د هر پښتون د قامي تهذيب او پښتونولۍ مهمه برخه ده- د دې نه هيڅ يو پښتون هم سرغړونه نه شي کولے-

د نورو پر مخ تللو قامونو په څېر پښتانه هم ځان ته خپل ټاکلي اصول او قواعد لري- پښتني ټولنه په عمومي ډول د سولې سره مينه لري ،يو بډايه کلتور لري ، چې پښتونولي ورته وئېلې کېږي- پښتونولي په پښتني ټولنه کښې د قبيلوي ژوند ټول اړخونه اداره کوي-

په خلقو باندې د کلتور اغېزې خورا قوي دي. دکلتور ژبه، بيا په ځانګړي توګه د جرګو ژبه له استعارو نه ډکه ده- دا ژبه داسې ده، چې ډېر تريخ حقايق هم په داسې په زړه پورې بڼه وړاندې کوي، چې د ځوان او بوډا ، نارينه او ښځينه، لوستي او نا لوستي لپاره د خوښۍ وړ ګرځي- که دا استعارې د خلقو له ذهنونو نه د کتاب پاڼو ته راوړلې شي، نو ډېرے خلق به د هغې په معنا او استعمال پوه شي-

## 1.2 د پښتو ژبې سوېل ختيځه لهجه

**(South-eastern Dialect of Pashto Language)**

د ژبو د پېچلتیا او د دوي د بېلابېلو لهجو په اړه ډېرې لیکنې شوې دي. ژبې له یو بل سره ولې دومره توپیر لري؟ کوم عناصر په دې کښې شامل دي، او د هغې څمکنې لاملونه څه دي؟ په دې اړه له پخوانیو لیکنو څخه هم ګټه اخیستلے شو- د ژبې پېچلتیا او د سیمه ایزو دندو سره د هغې اړیکې زمونږ د پوهنې (څیرکتیا) ژورولو لپاره روانې څېړنې او سپړنې ته اړتیا لري- سیمه ایز ډائلیکټولوژي (Dialectology) په یوه ځانګړې جغرافیه کښې د ژبپوهنې توپیرونه څېړي، په یوه ښار کښې د وړې پېمانې توپیرونو څخه نیولې بیا د هېوادونو تر منځ پراخ توپیرونو پورې اړه لري- دا فرق د ژبو ښائست دے-د لهجوي پوهنې دا کلیه د پښتو ژبې دپاره هم کارول کېږي-

په پښتو ژبه کښې دوه غټې لهجې دي چې کندهارۍ او یوسفزۍ نومېږي- دا نورې ټولې وړې لهجې د دې دوؤ لهجوفرعي ډلې دي- سوېل ختیځه لهجه ، کومه چې په مجموعي ډول په سوېل ختیځه پښتنه سیمه (سوېلي پښتونخوا) کښې وئېلې کېږي، د پښتو ژبې د کندهارۍ لهجې یوه فرعي ډله ده – نه یوازې په سوېلي پښتونخوا کښې دننه ، بلکې په پولو ئې هم زیات خلق وائي- ډېرے ژبې لکه براهوي، سلېماني بلوڅي، سندي، کېتراني، جعفرکي، هزارګي، اردو او نورې ژبې هم د دې سیمې پولو ته نژدې وئېلې کېږي.- دغو ژبو په یویا بل ډول د سوېل ختیځې لهجوي ډلې غرېز سیسټم یا لهجوي جوړښت اغېزمن کړے دے- په ځینو سیمو کښې د پښتو نورې لهجې هم وېل کېږي لکه شمال لوېدیځه لهجه (غلزۍ بولۍ)، وزیرواله بولۍ، مروت واله بولۍ او نورې- له همدې امله، مونږ کولے شو ووایو چې دا یو ځانګړے موقعیت لري- نامتو ژبپوه مورګن سټرن په خپل څېړنیز رپورټ

"شمال لوېدیځ هند ته د ژبپوهنې ماموریت راپور" کښې اووېل: “Report on a linguistic mission to north-western India”:

> "The Pashto dialects of Balochistan belong to the southern or 'soft' variety of the language, which does not change (ṣ) and (ẓ) into (x) and (ğ). The most important pathan tribes of the province are the kakars and the spin (white), and tor (black) tarins" (1)

ژباړه: "د بلوچستان د پښتو لهجې د ژبې د جنوبي يا نرم ډول سره تړاو لري، چې (ښ) او (ږ) په (خ) او (ګ) نه بدلوي- د صوبې تر ټولو مهمې پښتنې قبيلې کاکړان او سپين ، او تور ترينان دي"

د دې ماهر ژبپوه تر څنګ يو شمېر نورو ژبپوهانو او څېړونکو هم د ژبو اړوند په خپلو ليکنو او بحثونو کښې دغه لهجوي ډله (جنوبي لهجه) د سوېل لوېديځې ژبې (کندهارۍ يا نرمه بولۍ) د يوې برخې يا فرعي برخې په توګه ياده کړې ده- او د دې اصلي لامل دا دے چې دا دواړه توکميزې ډلې ژور فونولوژيکي، مورفولوژيکي، لغتي او نور ژبني اړيکې او ورته والے لري- خو له بلې خوا دغه لهجه د پښتو ژبې له نورو ټولو لويو او وړو لهجو سره د پام وړ ژبني توپيرونه لري-د دې ډلې داسې استعاري کلمې په کلتوري "جرګو" کښې کارول کېږي، چې د سوېل لوېديځو ژبو (نرمې يا کندهارۍ لهجې) سره توپير لري، نو له همدې امله دا د نورو په پرتله ارزښتناکه بولۍ ګڼله کېږي

## 1.3 جرګه څه ته وائي؟

په يوه ټولنه کښې چې خلق ګډ ژوند سره کوي خامخا به جګړې پېښيږي. په دې کښې کاميابه ټوک هغه دي چې خپلې ستونزې په ښه توګه هوارې کړي- د دې ستونزو د هوارولو بېلابېلې ادارې دي، چې يوه په کښې د پښتنو جرګه هم ده- پښتانه له پخوانې وختونو راهيسې د پښتونولۍ د اصولو په بنسټ خپل ځانګړے او اساسي قانون مخ ته وړي - د دوي د ژوند يوه ځانګړنه د مشرانو جرګه يا شورا ده-

په آريانا دائرةالمعارف کښې د جرګې په حقله داسې ليکل شوي دي:

> " جرګه د پښتو او ترکي شريکه کلمه ده، په فرهنګ او سخن، فرهنګ آنند راج او فرهنګ غياث اللغات کښې راغلي چې جرګه يو ترکي کليمه ده چې د ګډ کښېناستلو، راغونډېدلو او حلقې جوړولو معنا ورکوي- په پښتو-پښتو تشريحي قاموس کښې جرګه د غونډې، اولسي مجلس، ټولې، د مشورې مجلس او د قومي غونډې په معنا راغلې ده، چې د فيصلې صلاحيت لري او حکم يې د منلو وړ وي-" (2)

کله چې په پښتنو کښې د دوؤ فریقو تر منځ یوه ستونزه پېښه شي، یا یو څوک په بل چا نیوکه و کړي، نو اول د څلورو پنځو مشرانو یوه مرکه هغه فریق ته لېږلې کېږي په چا چې ړومبې فریق نیوکه کړې وي- که چرې د پر له پسې مرکو پس هم ستونزه د هوارېدو خوا ته نه تله نو بیا جرګه را غوښتل کېږي-جرګه یو داسې پارلیمنټ دے په کوم کښې چې د اولس مشران د خپل قام ستونزې حل کوي- د دې ذکر ښاغلي سمسور منګل داسې کړے دے:

" د کومې معاملې د فېصلې کولو دپاره تجربه کار او معزز مشران کښېني او معاملې باندې بحث کوي او دهغې حل لټوي او د هغې پرېکړه ټولو ته قابل قبوله وي. علاقایي سطح نه واخله تر ملکي سطحې پورې معاملات د جرګې په ذریعې حل کولے شي. " (3)

په پښتنو کښې د جرګې مشري درې ډوله خلق کوي- په یوه کټګورۍ کښې عالمان (دیني عالمان)، دویمه خانان او نور اغېزمن خلق او په درېمه کټګورۍ کښې کسبي جرګه مار شامل دي- د جرګې د پرېکړو د پلي کولو معیار په دې ټولو برخو کښې یو شان دے- د پښتنو ټولې وړې او غټې مسئلې د جرګې له لارې حل کېږي لکه؛ د قتلونو، غلاګانو، ځمکو او حتی د ماشومانو د جګړې ټولې پرېکړې په جرګه کښې پلې کېږي- د جرګې د هرې پرېکړې منل د ټولنې په هر وګړے فرض دي- هیڅ وګړے نشي کولے چې د جرګې له پرېکړې سرغړونه وکړي-

**1.3.1.د جرګه مار ځانګړتیاوې:** هر سړے جرګه مار نه شي جوړېدے- جرګه مار باید دا ځانګړتیاوې ولري:

۱-په پښتوبه پوه او ځیرک وي، او هره خبره به ئې په تاله تللې وي-

۲-دروند وضیعت به لري. په مجلس کښې به د پوچو خبرو، دروغو او قسمونو سهارا نه اخلي-

۳-په مېلمستیا به غښتلے وي،او دسترخوان به لري.

۴-سابقه ئې باید له ابهامه پاکه او صفا وي، شخصي ژوند ئې باید مشکوک او متنازعه نه وي-

۵- د چا پښتو ته به غوږ ږدي،او د خبرې کولو په وخت به خپل نوبت په پام کښې نیسي- له دې سره سره به د فریقینو سابقه هم خپل مخ ته ږدي.

۶- غیرت مند او مستقل مزاجه به وي، او خپل هدف به ئې ښکاره او واضح وي.

۷-ځاني مفاد به تر شا کوي او د فریقینو خیر ښېګړه به غواړي.

۸- که ئې چرې یو فریق عزیز او قریب وي نو د هغه په خپلوي کښې به سترګې دومره نه پټوي چې د سلامت او ملامت درک ځیني ګار شي.

۹- هره خبره دې په ښه توګه سنجوي، پلټنه دې کوي تر څو چې یوې ښه پائله ته ورسېږي.

۱۰-د کلکې حافظې څښتن به وي. له دې سره سره به د پښتنو مشرانو په تاریخ خبر وي، او د پرېکړې کولو په وخت به د هغو مشرانو زړې پرېکړې خپل مخ ته ږدي.

۱۱-هره خبره به په خپل وخت کوي. یعني په دې به ښه پوه وي چې د کومې خبرې وخت دے او د کومې خبرې وخت نه دے. کومه خبره د کولو ده او کومه د کولو نه ده.

۱۲-هره خبره به ئې د خپل دماغ وي، له تقلیدي او تکراري خبرو څخه به کلکه ډډه کوي.د خبرې سر، میان او پاے به ئې معلوم وي.

۱۳- تر موضوع دباندې خبره به نه کوي او د زاړه کسات اخستلو دپاره به راغوښتل شوې جرګه غنیمت نه ګڼي. او نه به په خپلو ناوړه خبرو د اولس جذبات داسې را پاروي چې خبره بلې خوا ته لاړه شي او اصله موضوع موقوفه شي.

۱۴-او تر ټولو غټه خوبي به ئې دا وي چې اولس به پخپله ټاکلے وي. له بلې خوا نه به نه وي ټاکل شوے.

## 1.4 د پښتنو په ټولنه کښې د جرګې ارزښت

د پښتنو ټولې وړې او غټې کشالې د جرګو د لارې هواريږي- له يوې وړې کورنۍ ستونزې څخه نيولې بيا د هېواد د باچا تر ټاکلو پورې دغه ټولې ستونزې د جرګو له لارې تر سره کېږي- په پښتنو کښې د جرګې تاريخ ډېر اوږد دے. د دې ثبوت آريانه دائرةالمعارف داسې په‌ښوي:

" جرګه په افغانستان کښې لرغونے تاريخ لري او له آريايانو څخه نيولې بيا تر ننه پورې د تاريخي افغانستان په کليو، قبيلو او حکومتونو کښې د دې موسسې د پرېکړو درناوے کېږي." (4)

جرګه په پښتني ټولنه کښې د احترام وړ اداره ده او پښتنو د خپل تاريخ په اوږدو کښې ورته درناوے کړے دے. دا د شخړو د حل يوه اداره ده چې په پښتني ټولنه کښې په افقي او عمودي توګه کار کوي- د جرګې مشران د قام او اولس د جذبې څخه سرشار بې له څه معاوضې خپله وظيفه اجرا کوي-

جرګه د اړوندو فريقينو له خوا د مشرانو له ټاکلو سره سم خپله پروسه پيلوي- يو انګرېز ليکوال په خپل کتاب کښې د جرګې په حقله داسې وائي:

“Jirga is the best example of ‘egalitarianism’ in Pashtoon society, all Jirga members have equal status and cases are resolved on unanimous decisions.” (5)

ژباړه: "جرګه په پښتني ټولنه کښې د مساواتو تر ټولو ښه بېلګه ده، د جرګې ټول غړي مساوي حېثيت لري او قضيې په متفقه پرېکړو حل کېږي"-

د جرګې غړي خپله پرېکړه په اعتبار سره عملي کوي. د جرګې د پرېکړو ردولو والا نه سخته جريمه اخستلې کېږي- د جرګې د پرېکړو تطبيق ځانګړے او له حالاتو سره سم دے- د جرګې په باب اروانښاد عطايي داسې ليکي:

" قومي غونډه چې د فيصلې صلاحيت لري او حکم يې د منلو وړ وي. په عام ډول د جرګې اصطلاح پر هغه غونډه کېږي، کوم چې د قبيلوي مسائلو د حل له پاره جوړېږي. دلته د جرګې او مرکې مفهوم يو دے، خو په خاص

ډول جرګه هغه لویه غونډه ده چې په هغې کښې د خېلونو مشران راټولېږي او د غټو قومي مسئلو په باب فیصلې کوي. " (6)

د دې نه دا څرګندېږي چې د پښتنو ټولې ورې او غټې ستونزې د جرګو له لارې هوارېږي. په دې کښې د ماشومانو جګړې، د مړو فیصلې، د غلا فیصلې، د مځکو فیصلې د باچهۍ جوړولو او نړولو غرض ټولې پرېکړې په جرګو باندې هوارېږي-که مونږ د افغانستان تاریخ و ګورو نو دې لویو جرګو د پښتنو د مشرانو سره سره د افغانستان باچهان هم ټاکلي دي- او دا جرګې له اریایي دورې څخه بیا تر اوسه پورې دوام لري-

د حکومتولۍ د اوسنیو معیارونو له مخې جرګې خپل اهمیت له لاسه ورکړے، خو ډېرے خلق اوس هم جرګې او د جرګې پرېکړو ته په درنه سترګه ګوري- جنوبي پښتونخوا هم یوه د هغو سیمو د جملې څخه ده، چې اوس هم خلق د جرګې له لارې ټولې پرېکړې عملي کوي-

**2 – تحقیق سره د اړه لرونکو موادو جائزه (Literature Review):**

په دې مقاله کښې د پښتني کلتور یومهم توکے "جرګه" او د وینا مهم توکے"استعاره" دواړه جوخت څېړل شوي دي- د دې څېړنې لپاره ما دپښتني کلتور په اړه ځینې څېړنیز اثار لوستي دي، په ځانګړې توګه هغه استعارې د نظر لاندې راوړلې شوې دي کومې چې د سوېلي پښتونخوا د مشرانو لخوا په جرګو کښې کارول کېږي – د ژبې او کلتور مثال د روح و تن دے- په دې حقله داسې وئېلي شوي دي:

> " ژبه د نورو کلتوري ارزښتونو په شان یو ستر کلتوري ارزښت دے چې په ټولنه کښې موجودیت لري او د ټولنې څخه جدا او په ځانګړې ډول هیڅکله هم وجود نه لري- ژبه د ټولنې سره جوخت پرمختګ کویو د ټولنیزو تغیراتو سره سم تغیر کوي- او مرګ او ژوند ئې په واقعیت کښې د ټولنې د مرګ او ژوند سره تړلي دي-" (7)

یو غربي لیکوال " کرسټل " د ژبې تعریف په دې ډول کوي:

> "the systematic, conventional use of sounds, signs or written symbols in a human society for communication and self-expression". (8)

ژباړه: "په انساني ټولنه کې د راشه درشه او خپل فکر څرګندولو لپاره د غږونو، نښو ےا لےکلو رمزونه (سمبولونو) په ترتیب، او دود ےز (روایتي) ډول کارول - "

ژبه یو علامتي کردار لري- د ژبې د علامتي کردار او ټولنې په حقله نوموړ ے لیکوال خادم حسین داسي لیکي:

" د سماجي اړخ درې حصې وي او درې واړه د ژبې د علامتي کردار نه بغیر ممکن نه وي- " (9)

دا خو وې د ژبې او کلتور خبرې، اوس د پښتونولۍ د یو ډېر مهم توکي جرګې په حقله څو حوالې راوړم، چې د موضوع په حقله راسره مرستیالې شي- روښان یوسفز ے د پښتنو د جرګې د تاریخي ارزښت په بابله داسي لیکلي:

"پختونوں کی سماجی زندگی اور تاریخ میں جرگہ سسٹم کے روایت کو اس وقت چار چاند لگ گئے جب اکتوبر 1747ء میں "شیر سرخ" کی درگاہ میں افغان قوم کے عمائدین (مشران) اپنے لئے نیا قائد، رہنما، یا بادشاہ منتخب کرنے کے لئے جمع ہوئے تھے- " (10)

هغه پر مخ داسي لیکي:

" افغان قوم کے صابر شاہ نامی ولی اللہ وہاں آئے-ان کے دائیں ہاتھ میں گندم کا ایک خوشہ تھا جو انھوں نے آتے ہی اس دیو قامت خوبصورت نوجوان احمد خان کے دستار میں لگا کر جرگہ سے مخاطب ہو کر کہا کہ آج سے یہ نوجوان تمہارا قائد اور بادشاہ ہے " (11)

له دې پورتنۍ حوالو نه دا ظاهره شوه چې جرګه د پښتنو یو لرغونے دود دے، او دا د پښتنو په ټولنیز ژوند کښې څومره ارزښت لري- له یاد شوو کتابونو علاوه ما د دې مقالې لپاره د سمسور منګل "پښتونولي "،د راج ولي شاه خټک "پښتو ادبي تحریکونه "،د محمد صادق ژړک "پښتونواله"، د علامه عبدالحئ حبیبي صاحب "پښتو او پښتونواله "، او د درویش دراني "د پښتني ژوند کړه وړه " په رسمیت لوستي دي او استفاده مې ترې کړې ده- له دې علاوه د ټکو اصلي معنا او ریښې معلوملو دپاره د ځینې قاموسونه نه هم کار اخیستل شوے دے، لکه "زاهد پښتو-پښتو سیند "،

"پښتو-پښتو تشریحي قاموس "، "آریانه دائرةالمعارف "،او د محمد ابراهیم عطایي تالیف کړے "د پښتني قبیلو اصطلاحي قاموس "- د ژبپوهنې د اصطلاحاتو پاره د پښتو او انګرېزۍ ژبې کتابونه لوستلي شوي دي، چې پورته ئې حوالې راوړلې شوې دي، او مخ ته به ئې هم یادونه و شي- د دې ټولو موادو لوستلو وروسته زه د دې جوګه شوم چې د مقالې په لیکلو ګوتې پورې کړم-

## 4- د معلوماتو وړاندې کول او تحلیل: (Data Presentation and Analysis)

کلتوري ژبپوهنه (Cultural Linguistics) د مطالعې څو اړخیزه ساحه ده چې د ژبې او کلتوري مفکورو ترمنځ اړیکه لټوي- دا معاینه کوي چې ژبه څنګه کلتوري مفکورې وړاندې کوي او واضح کوي، کوم چې د بشري تجربو لخوا شکل شوي دي- اوسنۍ څېړنیزه مقاله د مطالعې لپاره د ډېټا په توګه راټولې شوې ده ،غوره شوي استعارو ته ژوره کتنه کړې، ترڅو په جرګو کې د قومي مشرانو لخوا شامل شوي بېلابېلې حکمت عملۍ( سټراټېژۍ ) روښانه کړي- ړومبے به د استعارې بشپړه پېژندګلو او کړو، بیا به د دې د استعمال په حقله معلومات راوړو-

**4.1-استعاره (Metaphor )**: د جرګې ژبه زمونږ د ورځنۍ ژبې نه جدا وي- د جرګې غړي د جرګې په جریان کښې خپل ځانګړې توري کاروي- مونږ هغه توري په خپل عادي ژند کښې هم کاروو، خو کله چې ئې د جرګې غړي په جرګو کښې استعمالوي نو معنا ئې بدله وي- دې ته مونږ په ادبي ژبه کښې "استعاره " وایو- استعاره په لغت کښې عاریت غوښتلو او په اصطلاح کښې د غیر حقیقي معنا لپاره د کوم لفظ استعمالولو ته وائي، په دې شرط چې د حقیقي او مجازي معنا تر منځ د تشبیه علاقه موجوده وي- د دې تعریف په دې ټکو شوے دے:

> " د استعارې لغوي معنا قرض اخستل دي او په حقیقت کښې د تشبیه مختصر کولو او په کښې مبالغې پیدا کولو ته استعاره وئیلے شي- استعاره ظاهراً د تشبیه یو قسم ښکاري چې پکښې حرف تشبیه نه وي ذکر شوې، لکه: که څوک داسې و وائي چې " دا اوبه لکه د شاتو خوږې دي" نو دا تشبیه ده ځکه چې د

تشبیه ټول ارکان په کښې موجود دي، ولې که دا خبره داسي و کړې شي چې
" دا اوبه شات دي" نو دا استعاره شوه-" (12)

د استعارې د تعریف د پاره زه د اکسفورډ د ادبي اصطلاحاتو دلغات نه دا حواله را اخلم:

Metaphor is "a figure of speech in which a word or phrase is applied to an object or action to which it is not literally applicable, in order to suggest a resemblance or analogy between them". (13)

ژباړه: "استعاره "د وینا هغه شکل دے چې په هغه کښې یوه کلمه یا جمله په یو شي یا عمل باندې پلې کېږي چې په لفظي توګه د پلي کېدو وړ نه وي ، ترڅو د دوي ترمینځ ورته والے یا مشابهت وړاندیز وکړي"

دا د وینا یوه بڼه ده چې دوه شیان د "لکه" کارولو پرته پرتله کوي- دا د یو څیز، مفهوم، یا مفکورې د بیان کولو یوه لاره ده چې په مستقیم ډول یې د بل څیز سره نښلوي چې ورته نه وي- استعارات د انځوریزې او تشویقونکې ژبې د جوړولو ، د پېچلو نظرونو د بیانولو او په لیکنه یا وینا کښې د ژورتیا او احساساتو د زیاتولو لپاره کارول کېږي- د بېلګې په توګه: "ننواتې" هغه کلمه ده چې په ورځني ژوند کښې د ننوتو په معنا کارول کېږي، خو د جرګې غړي ئې په بل مفهوم کاروي، لکه:

"د چا کور ته د بخښنې غوښتلو دپاره تلل." (14)

مختلفې سیمې هم د یوې ژبې په استعارو کښې خورا مهم رول لوبوي- د نړۍ ډېرے ژبپوهان د سیمې توپیر ته اهمیت ورکوي او تر ډېره حده بریالي شوي هم دي- دلته مونږ په دې باب یوه حواله راوړو چې خبره نوره هم واضح شي:

": Language processing and production involve a network of interconnected regions within a specific society." (15)

ژباړه: "د ژبې جریان او تولید په یوې ځانګړې ټولنې کښې دننه د یو بل سره تړلو سیمو شبکه کښې شامل دي-"

د دې تر څنګ سیمه ییزې ژبې او د هغوي دندې د یوې سیمې په ویلو، لوستلو، لیکلو او پرېکړو کولو کښې هم ډېر اغېز لري- ددې ذکر په دې ډول شوے دے:

"The people of each region have an emotional relation with their region, the signs of which can be seen in their dialects. Different regions' language functions significantly impact speech articulation, writing, and emotional regulation." (16)

ژباړه: د هرې سیمې خلق له خپلې سیمې سره احساساتي اړیکې لري، چې نښې یې په خپلو ژبو کښې لیدل کېږي- د مختلفو سیمو د ژبې دندې د وینا په بیان، لیکلو، او احساساتي مقرراتو کښې د پام وړ اغېزه کوي-"

ژبه په خپل اصلي حالت کښې نه پاتې کېږي او پښتو یوه له ژوندیو ژبو څخه ده نو د وخت په تېرېدو سره بدلون مومي- د دې تر څنګ د یوې سیمې دودونه، رسمونه او موسم هم په ژبو خپل اغېز لري- دا د څو کیلومیټرو په فاصله کښې بدلېږي- د سیمې د بدولون سره د ژبې د بدلون ذکر داسې شوے دے:

"Language changes partially every 20 kilometers, leading to variations in dialects across different regions". (17)

ژباړه: " ژبه په هر شل کیلومیټره کښې په جزوي طور بدلېږي، چې په مختلفو سیمو کښې د ژبو د توپیر لامل کېږي- "

خو که مونږ په جرګو کښې کارول شوؤ استعارو ته وګورو، دا په خپل اصلي حالت کښې پاتې دي- دغه استعارې د پېړو راهیسې کارول کېږي، مګر هیڅ تغیر ئې نه دے خوړلے- بیا هم مونږ د دې په سیمه ایز ډائلیکټولوژي (Dialectology)کښې توپیر لیدلے شو-

### 4.1 کلتوري استعارې (Cultural Metaphors):

کلتوري استعارې په کلتوري ژبپوهنه کښې یوه کلیدي مفکوره ده، هغه طریقې ته اشاره کوي په کوم کښې چې ژبې د ډېرو کلکو ساحو په شرطونو کښې د لنډو مفکورو یا پروزو معنا ور کوي- په ادراکي ژبپوهنه (Cognitive Linguistics) کښې د مفکورې استعاراتي تیوري (CMT:Conceptual Metaphor Theory) په ګوته کوي چې څنګه استعارې په مختلفو ساحو کې د مفکورې نقشه راکاږي، چې د سرچینې ساحه (source domain) او هدف ساحه (target domain) په نوم پېژندل کېږي- په هرصورت، کلتوري استعارې په کلتوري توګه ځانګړي دي او په کلتوري دودونو، فولکلوري باورونو، او نړۍ په نظر کښې ریښې لري- د مفکورې استعاراتي تیوري د ابتداء په باب کښې داسي وئیل کېږي:

“Conceptual Metaphor Theory (CMT), developed since the 1980s by Lakoff, Johnson and others, has taken up a fundamentally universalist stance by locating the roots of metaphorical cross-domain mappings in neurophysiological structures”. (18)

ژباړه: " د مفکورې استعاراتي تیوري (CMT)، چې د 1980 لسیزې راهیسې د لاکوف، جانسن او نورو لخوا رامنځته شوې، په نېوروفیسولوژیکي جوړښتونو کې د استعاراتي دورګه ساحه نقشې د ریښو په موندلو سره یو بنیادي نړیوال دریځ خپل کړے دے- "

په کلتوري ژبپوهنه کښې، کلتوري استعاره د کلتوري مفکورې یوه بنه ګڼل کېږي او ډېرے وختونه د ځانګړو ژبنو څرګندونو یا محاورو لخوا په نښه کېږي- کلتوري استعارې د ډېرو سختو تجربو په شرایطو کې د پېچلو نظرونو یا احساساتو د پوهېدو او څرګندولو د یوې طریقې په توګه پېژندلے شي- د بېلګې په توګه:

" The use of the heart as the ruler of the body in ancient

Chinese philosophy is an example of a cultural metaphor, how certain linguistic expressions in Chinese reflect conceptualizations relating to the heart, which in ancient Chinese philosophy “is regarded as the central faculty of

cognition and the site of both affective and cognitive activities.” (19)

ژباړه: " په لرغونې چينايي فلسفه کښې د بدن د حاکم په توګه د زړه کارول د کلتوري استعارې يوه بېلګه ده، چې څنګه په چينايي ژبه کښې ځينې ژبني څرګندونې د زړه پورې اړوند مفکورې منعکس کوي، کوم چې په لرغونې چينايي فلسفه کښې "د ادراک مرکزي پوهنځے او د دواړو اغېزمنو او ادراکي فعاليتونو موقعيت ګڼل کېږي – "

کلتوري استعارې په اصلي انګليسي، فارسۍ، عربۍ او پښتو کې هم موندل کېدے شي چېرته چې دوي زيات تر د ټولنې کلتوري ارزښتونه ، قدرونه، او باورونه منعکس کوي- کلتوري استعارات د يوې ثابتې کټګورۍ په پرتله په دوامداره توګه ليدل کېږي، او د دوي ادراکي او ژبني حالت په هغه شرايطو پورې اړه لري چې په کوم کښې کارول کېږي- دا په کلتوري ژبپوهنه کښې د مطالعې يوه مهمه برخه ده، ځکه چې دا استعارې کلتوري ارزښتونه، باورونه، او د نړۍ نقطه نظرونه څرګندوي - دا استعارې په ژوره توګه په اصلي کلتوري دود کښې ريښې لري -

دا کلتوري استعارې يوازې بياناتي وسايل نه دي بلکې د ځمکې ځمکې د مالکيت او تنظيم لپاره د يوې ډېرې دوامدارې کړنلارې اړتيا په ګوته کوي، چې د ځمکې توان دارۍ پېژني-

د جرګې دپاره استعمالېدونکي ځينې اصطلاح ګانې دا دي:

| د جرګې دپاره استعمالېدونکې اصطلاح ګانې | معنا |
|---|---|
| 1-جرګه کول<br>2- په جرګه تلل<br>3- جرګې ته خبره ورکول | 1- د خبرو اترو لپاره کښېناستل<br>2- مينځګړتوب (ثالثي)کول |

| | |
|---|---|
| 4- د جرګې خبره<br>5- جرګې منځ ته را تلل | 3- د یوه یا دواړه ډلو له خوا خپل مدعا جرګې ته ورلېږل<br>4- د جرګې د غړو مفکوره<br>5- د جرګې مینځګړتوب ، لکه: اوربند یا په یو پېښه کښې د جرګې مداخله |

(20)

جرګه کول، د جرګې رالېږل، د جرګې له خوا تلل، جرګې ته راجع کېدل او د جرګې منځ ته تلل؛ دا ټول هغه اصطلاحات دي چې په جرګه کښې کارول کېږي-

## 4.2 د سوېلي پښتونخوا په جرګو کښې استعمالېدونکې استعارې

**Metaphors Used in the Jirgas of Southern Pashtoonkhwa:**

جرګې د شخړو د هوارولو او پرېکړو لپاره د پښتنو دودیزه اداره ده، او پښتانه خپل د پښتونولۍ د قدرونو او باورونو په ځاے کولو د پاره کلتوري استعارې کاروي – سوېلي پښتونخوا د ژبې او کلتور په حواله یوه ډېره غني سیمه ده- په دې سیمه کښې د پښتو ژبې بېلابېلې لهجې وئیلې کېږي، او هره لهجه ځان ته خپل تاریخ لري- د دې سیمې د پښتو د لهجو د ارزښت نه هیڅ څوک هم سترګې نه شي پټولے- د بهرني لیکوالانو سره سره پاکستاني لیکوالانو هم په دې موضوع ډېرې لیکنې کړې دي، لکه:

> "Pashto dialects in Southern Pashtunkhwa exhibit significant differences, influenced by the region's culture." (21)

ژباړه: " په سوېلي پښتونخوا کښې د پښتو ژبې د سیمې دکلتور تر اغېز لاندې د پام وړ توپیرونه څرګندوي- "

د پښتنو په جرګو کښې داسې ډېرې استعاري کارولې کېږي چې په وار وار به ئې یادونه و شي-

**4.2.1 کړه:**

د " کړه " اصلي معنا " ګس (کېنې)" ، "تاو شوي"ده، چې د " ښې " ، سیدهامتضاد دے، مګر په جرګه کښې ئې معنا بدله ده- د پښتنو ټولې پرېکړې د جرګو له لارې عملي کېږي، نو دا پرېکړې د ټولنې د هر غړي له خوا منل کېږي- خو کله کله داسې هم وشي چې د جرګې غړي ناسمه پرېکړه وکړي، د ټولنې غړي دا ډول پرېکړه نه مني- دا ډول پرېکړه د " کړه " په نوم پېژندل کېږي- د پښتني قبیلو اصطلاحي قاموس کښې د کړې یادونه په دې ډول شوې ده:

"غلطې پرېکړې ته کړه وایي، کله چې د جرګې غړي د یو چا په ګټه ناسمه پرېکړه وکړي او هغه ناسمه پرېکړه بولي او بله جرګه را وغواړي- که هغه جرګه دا پرېکړه ناسمه وګڼي، نو د ړومبۍ جرګې غړي د غلطې فېصلې د وجې جریمه جمع کوي- د جرګې ےو غړے چې په جرےمه محکوم شوے وي، خپل اعتبار له لاسه ورکوي او په جرګه او مرکه کښې د ګډون څخه بې برخې کېږي – که یو سړے د جرګې د ےوه غړي پر ضد دعوه وکړي او په سمه توګه ےې ثابته نه کړي، دعوه کوونکے به جرےمه جمه کوي. " (22)

**4.2.2 ننواتې:**

ننواتې په اصل کښې یوې خونې، کور او یا بل ځای ته د ننوتلو معنا لري، خو د جرګې غړي ئې د استعارې په توګه په بله معنا کښې کاروي – ننواتې د پښتنو یو ډېر مهم دود دی چې له لرغونو زمانو راهیسې را روان دی او تر نن ورځې پورې دوام لري- په پښتو سند کښې یې معنا په لاندې ډول ده:

"ننواتې: ښځ، م، ننواته، د چا کور ته د بخښنې غوښتلو لپار تلنه او بخښنه غوښتنه-" (23)

ننواتې يو ډېر مهم کار دے- دا هغه وخت پېښيږي کله چې د دوو ډلو په منځ کښې د شخړې د هوارولو لپاره بله لاره نه وي. د ننواتې ډېر تعريفونه شوي دي، خو زما په اند تر ټولو جالبه او په زړه پورې تعريف ئې ښاغلي صديق الله رښتين کړے دے، هغه وائي :

"د يوې ګناه د ښنلو د پاره د چا عذر کول او کور ته ورتلل ننواتې ده- ننواتې ليږل او ننواتې منل د پښتني قانون يو منلے دود دے- د ننواتې په واسطه لوے لوے جرمونه او ګناهونه ښنل کېږي، تر دې چې پښتانه د ننواتې په ورتګ د مړي له بدو هم تېرېږي- په ننواتې کښې سپين ږيري، ملايان او مياګان استول کېږي-" (24)

د دوؤ دښمنو قبيلو تر مابين د پخې روغې جوړې لپاره د ننواتې نه بل ښه کار نشته- د سنګر مل دا يو څو خبرې د دې کار د سپيناوي د پاره غوره بولم:

"ننواتې په پښتنو کښې رسم دے- کوم وخت چې د دوؤ تنو يا دوؤ کورنيو او يا دوؤ قبيلو په منځ کښې جګړه اوږده شي، نو مغلوبه خوا د دې لپاره چې نور خپل ځان له مغلوبيت او جګړې نه خلاص کړي، نو څو تنه مشران، سپين ږيري، ملايان او سيدان هغه غالب لوري ته و ليږي چې د مغلوبې خوا عذر او غواړي- کله د مغلوبې خوا نماينده هم پکښې وي. د عذر دپاره د سپين ږيرو دا عذر غوښتل د پښتنو په اصطلاح ننواتې بولي او ننواتې د پښتنو په نزد ډير اهميت لري او هغه څوک چې ننواتې ورلېږلي کېږي، که هر څومره ډير تاواني شوے هم وي، هغه ننواتې ضرور مني او تر خپل تاوان تېريږي- د ننواتې نه منل په پښتنو کښې ډير بد کار دے-"

(25)

دا معلومه شوه چې ننواتې د پښتنو يو ډير مهم رسم دے- ننواتې د پښتنانه لپاره يو ستونزمن کار دے خو دا د ډېرې مجبورۍ په حال کښې کېږي- کله چې د دوؤ فريقو په منځ کښې د روغې او جوړې بله يوه لاره هم نه وي نو پښتانه ننواتې کوي-

### 4.2.3 تيږه اېښودل:

په پښتو ژبه کې غټ کاڼي ته تيږه وئيل کېږي، خو په پښتنې قانون کښې د استعارې په توګه کارول کېږي- تيږه اېښودل د پښتونولۍ يو د ارزښت وړ رسم دے- د تيږې تعريف پښتو سيند (Dictionary) داسې کړے دے:

" تيږه: ښځ، م، ا) کاڼے، ډبره، ګټه، 2) پ، ک، قومي بنديز، يو راز متارکه ده چې د قبيلې د دښمنو اړخونو تر منځ کېږي-"(26)

کله چې په پښتنو کې د دوو ډلو، کورنو يا قبيلو تر منځ جګړه وي، نو بې طرفه مشران دواړه ډلې سره يو ځاے کوي او د يوې ټاکلې مودې لپاره جګړه ودروي- دې ته په پښتو ژبه کښې " تيږه اېښودل " وائي- تيږه اېښودل د پښتنو يو ډېر مهم دود دے- د تيږې په باب سمسور منګل په خپل کتاب "پښتونولۍ" کښې دا خبره کوي.

"د دوو جنګي فريقو (کورنيو) تر منځ د يو خاص وخت لپاره په عارضي توګه جنګ بندي ته تيږه وئيل کېږي- د تيږې په وخت کښې د مذاکراتو په واسطه د مستقل امن او صلحې لپاره لارې هوارېږي-" (27)

تيږه اېښودل د پښتونولۍ يو ډېر ارزښتناک عنصر دے- دا په بدۍ او دښمنۍ ختمولو کښې ډېر ښه رول لوبوي- د پښتونولۍ د دې دود په حقله ښاغلے رښتين دا سې وائي:

" تيږه اېښودل د پښتنو د قانون يو محکم دود دے- کله کله د دوؤ خېلونو او قامونو په منځ کښې د جنګ جګړې لانجه پېښه شي او دواړه خواوې په سخت کړاو او تاوان اخته شي نو په دې وخت کښې د قوم سپين ږيري، مشران، ملايان، را ټولېږي او د جګړه مارو تر منځ د جنګ د بنديز تيږه ږدي- دتيږې اېښودلو په وخت کښې يوه کلکه ناغه هم لګول کېږي- تيږه ماتول په پښتنې رسم کښې يو بد او ناوړه کار بلکې جرم او ګناه ده- که چا تيږه ماته کړه، نو هغوي ته بيا سزا ورکول کېږي او ټاکلې ناغه به ترې اخستل کېږي-"

(28)

د تولنې سپینږیرې او مشران د تیرې د ایښودلو لپاره را تولیږي ترڅو په تولنه کښې دایمي او تلپاتې سوله رامنځته شي- په پښتونولي کښې د تیرې ماتول خورا غندل شوے دے، ځکه چې دا د پخلاکولو معاهده یا تړون دے او پښتانه هیڅکله هم خپل تړون نه ماتوي او نه سرغړونه ځنې کوي- تیره ایښودل د پښتونولۍ یو له ارزښتونو نه دے. د تیرې ایښودلو دود له پخوانو وختونو راهیسې را روان دے او نن ورځ هم هغه ډول دوام لري- تیره ایښودل په دوه ډوله کارول کیږي:

الف. د دوو ډلو تر منځ د یوې ټاکلې مودې لپاره د جګړې بندېدل چې په انګلیسي کښې Ceasefire بلل کیږي.

ب. د دواړو فریقو تر منځ د دایمي سولې او پخلاینې د تړون رامنځته کول.

د ړومبي ډول شخړو په جریان کښې، د پخلاینې او خبرو اترو له لارې د ستونزې د حل کولو هڅې دوام نلري. نو دلته اړینه ده چې خبرې اترې په سوله ایزه فضا کښې ترسره شي- او دوهم ډول تیره د دوو قامونو تر منځ واقع کیږي- او هغه قامونه ښه پرمختګ کولے شي چې د یو بل سره دا ډول چلند ولري-

**4.2.4 روغه جوړه:**

روغه یا جوړه مونث کلیمه ده چې په لغوي معنا کښې صحت مند ته وېل کیږي، دلته به ئې هغه استعاري معنا ذکر کړم کومه چې په جرګو کښې کارول کیږي-

که د دوو قومونو تر منځ د راکړې ورکړې پر سر جګړه وي او دا جګړه د اوږدې مودې لپاره روانه وي، نو دواړو لورو ته به زیان اوړي- دا تاوان کېدے شي مالي یا ځاني وي- په داسې وخت کښې بې طرفه مشران د ښه نیت په بنسټ د سولې خبرې پېل کړي- دې پخلاینې ته د پښتونولۍ په اصطلاح کښې روغه جوړه وېل کیږي- روغه جوړه د پښتونولۍ یو ډېر مهم توکے دے، چې له زرګونو کلونو را په دې خوا په پښتنو کښې جریان لري، او تر ننه پورې پلې کیږي- دلته د سمسور منګل څو کرښې نقل کوم چې زمونږ پوهه ښه روښانه شي:

" په قتل او قتال کښې یا نورو تنازعو کښې پۀ شرطونو یا بغیر شرطونو صلحه کول د پښتنو روایاتو کښې شامل دي-" (29)

روغه جوړه د مشرانو او دیني عالمانو لخوا تطبیق کېږي- په پښتونولۍ کښې د تیرې په څېر د روغې نه هم سرغړونه جرم د ے او سزا ئې هم هغه ډول ده- روغه جوړه د دوو ډلو یا قامونو ترمنځ دایمي اړیکو ته زمینه برابروي- استعاراتي تاثرات د شخړو بشپړ حل وړاندي کوي، او لکه یو پاک شو ے سلېټ داسي ختم شي- دا د متقابلو ګټورو او د قناعت وړ پایلې په ګوته کوي، چې د ټولو شاملو اړخونو لپاره د همغږۍ، توازن او درناوي پښتني ارزښتونه منعکس کوي- په پښتني کلتور کې روغه جوړه یو ډېر ارزښتناک توکے د ے چې د شخړو په هوارولو کښې د بخښنې، او پخلاکېدو په اهمیت ټینګار کوي- دا په اړیکو کښې د توازن او همغږي د بیا رغولو یوه لاره ده، او دا ډېر ے وختونه د مشرانو په منځګړېتوب د جرګې له لارې ترلاسه کېږي-

په جرګو او د شخړو د حل په نورو ترتیباتو کښې د دې استعارې کارول د ټولنې د غړو ترمنځ د ګډ تفاهم او ژبې په رامنځته کولو کښې مرسته کوي، د پخلاکېدو او د شخړو سوله ایز حل ته لار هواروي-

**4.2.5 ناغه**

ناغه په لغوي معنا کښې د رخصتۍ یا له دندې نه د یو چا د غیرحاضرۍ لپاره کارول کېږي- د ناغې تور ے پښتو سیند (Dictionary) داسي راوړ ے د ے:

" ناغه: ښځ، م، ښکلے، جریمه، سزا ، د عمل بدله، هغه تخم چې زرغون شي، د سترګو سره او نري رګونه، ناسوبتیا ، غېر حاضري" (30)

دا یو کلتوري استعاره هم ده چې د اوږدې مودې نه کارول کېږي- پښتانه په جرګه کښې د "ناغه" کلیمه د جریمې، سزا ، جزا په معنا کاروي- سمسور منګل د ناغې تعریف داسې کوي:

" د پنې (اوبهٔ خور) ویالې یا د لارې جوړولو یا نورو قومي، اجتماعي کارونو کښې د برخې په نه اخیستلو د کوم سړي جرمانه کول او د جرمانې پیسې د کار د نوعیت ، مقدار او ارزښت پهٔ بنیاد کښېښودل کېږي، چې دې ته ناغه وائي-" (31)

پښتانه ټول کارونه په اشر کوي او د کلي ټول ځوانان په دې کارونو کښې برخه اخلي- خو که د چا په کور کښې ځوانان نه وي او مالي منابع ولري، یا ځوانان فارغه نه وي او یا د کوم بل لامل له مخې په کار کښې برخه وانخلي، نو سمدستي به ناغه ورکوي. ښاغلے رښتین صاحب د ناغې په تعریف کښې یو څه اضافه کوي چې معنا ئې نوره هم روښانه شي:

" ناغه د پښتنو اولسي دود دے، د کوم غره یا ځنګل د ونو په وهلو چې د اولس له خوا کوم بندیزونه لګېږي-نو بیا ئې څوک نه شي وهلے او که چا دغه بندیزونه و نه منلو، نو ټاکلې ناغه ترې اخیستله کېږي- په اولسي او اجتماعي کارونو کښې هم کله کله ناغه او جریمه ټاکل کېږي، لکه سړک او لارې جوړول، ویالې ایستل یا داسي نور--- که څوک پکښې له نغاري او خبرتیا نه ورسته برخه وانه خلي نو ناغه پرې لګول کېږي، یا ورنه پخوانۍ ټاکلې ناغه اخیستله کېږي-

ناغه د یوې ګناه په مقابل کښې هم تاکل کېږي چې دلته د جرم و سزا معنا ورکوي- مثلاً وائې چې د فلاني سړي نه د دغه کار په وجه زر روپۍ ناغه واخیستل شوه-" (32)

د ناغې تطبیق، ورکول او ترلاسه کول په ټولنه کې مهم رول لوبوي، ځکه چې له دې سره کار ته د خلکو لېوالتیا نوره هم زیاتېږي-

**4.2.6 چیغه**

چیغه لوړ اواز ته وېلے شي، یعني کله چې ځوک په غټ اواز غږېږي، دې ته چغه وائي، خو د پښتونولۍ په قانون کښې چیغه د یوې کلتوري استعارې په توګه کارول کېږي- دا د پښتونولۍ ډېر زوړ او غوره دود دے- په دې اړه سردار محمد سنګر مل وایي:

"د دې کلمې معنا په زوره آواز کول ده، خو د قبایلي پښتنو په اصطلاح کښې هغه آواز دے چې د دښمن نه د دفاع لپاره وشي او کور او کلے خبر کړي- په بل عبارت هغه جنګي نعره ده چې پښتانهٔ جنګیالي مړونه ئې د حملې یا دفاع دپاره را پورته کوي-"
(33)

چیغه د جدیدې دورې د خطرې د سایرن حیثیت لري- او دا د اولس د خبرولو لپاره وهله کېږي- د چېغې یادونه ښاغلے سمسور منګل داسې کوي:

"د اور په لګېدو یا د ډاکې په وخت کښې د خولې نه تېز غږ ایستل یا د ډهول اوسورنا د غږېدو په ذریعه خلق د مرستې لپاره راغوښتلو ته چیغه وایي-" (34)

کله چې د یو چا په کور، باغ، یا ځنګل کښې اور و لګېږي، نو خلق په چیغه را غوښتل کېږي-

**4.2.7 ملاتړ:**

په لفظي معنا کښې ملاتړ د یو چا شا تړلو ته وئیل کېږي- په مجازي معنا کښې دا کلیمه د یو چا د کومک لپاره کارول کېږي- دلته مونږ د دې کلتوري استعارې معنا روښانه کوو- دا د پښتونولۍ یو لرغونے دود دے چې د پښتنو د قومونو ترمنځ یووالے او اتفاق رامنځته کوي- ښاغلے سمسور منګل دا خبره په دا ډول کوي:

"د دې ځخه مراد د دښمن د مقابلې لپاره د خلکو پهٔ خپلو کښې یو کېدل دي- دا اتحاد پهٔ یو ځاے مرستې پهٔ سیاسي او اخلاقي لحاظ هم کېږي، او په فوجي شکل کښې هم کېدلے شي-" (35)

یووالے د یو ملت د سیالۍ په ژوند کښې ډېر مهم رول لوبوي- که څه هم پښتانه قامونه د یو بل سره رقابت لري، خو بیا هم په یوه لویه پېښه کښې د بهرني دښمن

په وړاندې سره متحد دي- د دې يووالي لپاره، دوي په خپل منځ کښې يو تړون کوي، چې هر وګړے به ئې په ځاے کوي. دلته په دې برخه کښې زمونږ سره د مرستې لپاره ځينې کرښې دي:

"که چېرې په يو قوم کښې يوه غټه خبره پېښه شي يا کوم خارجي دښمن په يو ځائ چپاو راوړي، نو دلته ټول اولس راټولېږي، په خپل منځ کښې يو تړون او پرېکړه کوي او په ګډه سره د هغه چپاو مخه نيسي- د پښتنو په تړون کښې، يا په قران قسم خوړل کېږي، اويا په درې کاڼو د ښځو د طلاقولو لوړه کېږي، او وايي چې که څوک له قومي تړون وګرځېد ، نو ښځه دې پرې طلاقه وي- په قومي ملي چارو کښې پښتانه هميشه سره يو کېږي او کورني اختلافونه شاته غورزوي-

دغه شان د خارجي دښمن په مقابل کښې خپلې تر بګنۍ پرېږدي او ټول سره يو موټے او يو لاس کېږي او په يوه اتفاق دښمن ته په شريک ماتے ورکوي-" (36)

د دې پورتني بحث نه معلومېږي چې پښتانهٔ د بهرني دښمن په مخ کښې لکه د فولاد غر داسي ولاړ وي- دا د اتحاد او يو والي يوه ستره نخښه ده- د پښتون اراده، خوښه او لوظ لکه د کاڼي داسي کلک دي، لاکن بيا هم دوي خپلو کښې يوه معاهده کوي- په دې معاهده کښې دوي د يو بل د مرستې سوګند خوري- او په اتفاق او يوالي به هر ډول زورورو دښمنانو ته ماته ورکوي- د سوېلي پښتونخوا د پښتنو تاريخ د دا ډول کارنامو نه ډک دے-

## 4.2.8 خپلواکي

د خپلواکي لغوي معنا ده: واک خپلول، يعني خپل اختيار لاس ته راوړل- دا کلمه په کلتوري پښتو کښې د هېواد د ازادۍ لپاره کارول کېږي- د خپلواکۍ په اړه ډېرو ليکوالو ليکنې کړې دي، خو زه د علامه عبدالحئ حبيبي لاندې تعريف د خپلواکۍ او د دې د ارزښت په اړه د ټولو نه بشپړ، په زړه پوري او غوره ګڼم:

"د پښتنو او پښتنوالي يوه لويه حصه او تر ټولو دروند ټوک هم خپلواکۍ ده او بې له خپلواکۍ د پښتنولۍ ژوندون نه کېږي او لکه چې ښايي د پښتنولۍ ښېگړې نه سره غونډېږي نو لکه چې پښتنواله زمونږ اولسي راپاته سوې ښېگړه ده، دغسې هم خپلواکي د پښتنولۍ سره سمه د پښتنو د ژوند ملگرې ريشه ده، چې پښتنو تل د خپلواکۍ تر دروند سپوري لاندې په جگ مغزي ژوند کړے او کورټ د بل چا تر لاس لاندي والے او مريي توب نه مني ---- خپلواکۍ او مرئي توب ---- دا دواړه ډوله ژوندون دے چې تل پر نړۍ د سړو لومړے ډول خوښ دے او له او ستري څخه تښتي- او د هيچا نه ده خوښه چې د بل چا د لاس لاندي مرئے وي-"(37)

د خدا ے په نعمتونو کښې د ټولو نه لوے نعمت خپلواکي ده- د نړۍ زياتره جنگونه او جگړې د خپلواکۍ د پاره شوې دي، او په نړۍ کښې به داسي هيڅوک نه وي چې خپلواکي دې ئې نه وي خوښه- د خپلواکۍ په باب علامه صاحب مخ ته داسي ليکي:

"د ړومبۍ ورځې څخه چې سړي پر ځمکه را وپا ځول او دوي ته يې د ژوندون ډيري ښېگړې وروښندې په هغو ښېگړو کښې يوه خپلواکۍ ده چې تل د سړو د ښه ژوند ملگرې ده- هر څوک چې د څښتن دا ښېگړه او بايلي، هغه د لوړتيا څخه کښته شي او له برمه او پرغه ولوېږي نو د مرئي په څېر ژوندون کوي او په ژوندون کښې د هيڅ ښېگړې خاوند نه وي-"(38)

د پښتنو تاريخ ته که مونږ په غور اوگورو، نو مونږ په لرغوني دوره کښې ليدلے شو چې پښتنو هيڅ کله هم خپله ازادي او خپلواکي د لاسه نه ده ورکړې، او نه ئې د مريي توب ژوند قبول کړے دے- په دې جريان کښې پښتنو خپل سرونه ، شتمنۍ او خپل ځانونه بايللي دي، خو بيا ئې هم د خپلواکۍ بېرغ اوچت ساتلے دے- د نړۍ په تاريخ کښې ، که سکندر، مغل، چنگېز يا انگرېز دے، هر يوه د پښتنو د مغلوبولو هڅې کړې دي، خو بريالے شوے يو هم نه دے- صرف دا توپير ئې دے چې نيم ژر وتلي دي،

او نیم لږ په ځنډ تللي دیو او د پښتون خاوره ئې پرې ایښې ده- پښتنو تل د خپلواکۍ دپاره خپل سرونه قربان کړي دي، هغوي ته جېلونهٔ ورکړل شوي دي، لاکن د خپلواکۍ نه ئې هیڅ کله هم لاس نه دے اخستے-

بلې خوا ته که مونږ د اوسني پېر د پښتنو خبره اوکړو، هغه د غلامانو رنګه ژوند تېروي- یو داسې مریي توب ور په برخه دے چې دوي ته په خپله آزادي ښکاري- جماعت، حجره، مکتب، کلے، کور هیڅ یې محفوظ نه دي- او د ټولو نه بده ورځ بیا دا ده چې ازادي او خپلواکي ئې له لاسه ورکړې ده –اوس هم که پښتانه لاس سره ورکړي او په خپل منځي جګړو تیره کښېږ دي نو د نړۍ هیڅ طاقت ئې هم جواب نه لري-

**5- پائله (Conclusion):**

کلتوري استعارې د انسانانو ترمنځ د اړیکو په جوړولو کښې مهم رول لوبوي، چې د کلتوري ارزښتونو، قدرونو او نړۍ ته د کتلو هغه طریقې را ښیي، کومې چې د انسانانو په ژبه او راشه درشه کښې کارول کېږي –دا استعارې په کلتوري دودونو، او فولکلوري ادب کښې ژورې ریښې لري- دا هم کېدے شي چې کلتوري استعارې د مختلف کلتوري پس منظر د وجې د وېناوالو تر منځ د غلط فهمۍ لامل شي- د کلتوري مفکورو او د دوي ژبني بیانونه ډېرې دقیقې او ژورې پوهنې ته اړتیا په ګوته کوي- سربېره پردې، دوي د یوې ټولنې کلتوري ارزښتونو او اقدارو ته نوې دربچې پرانیزي- بالاخر، کلتوري استعارې د پېچلو نظرونو او احساساتو د پوهېدلو او څرګندولو لپاره یوه پیاوړې وسیله ده، او د دې اهمیت د ژبې څخه بهر پراخېږي ترڅو زمونږ خواوشا نړۍ سره زمونږ اړیکې رامنځته کړي-

په جنوبي پښتونخوا کښې د پښتني جرګې سیستم د کلتوري استعارو بډایه لړۍ کاروي، لکه کړه، ننواتې، تیره ایښودل، روغه جوړه، ناغه، چغه، ملاتړ او خپلواکي، په شمول د بخښنې او د شخړو سوله ایز حل ،چې د پښتونولۍ ارزښتونه او باورونه پکښې له ورایه معلومېږي- دا استعارې د پښتنو په کلتوري دودونو او اولسي اقدارو کښې ژورې ریښې لري، چې د کلتوري ارزښتونو او اقدارو په پلي کولو کښې

د ژبې اهمیت په ګوته کوي- په جرګو کښې د دې استعارو کارول د شخړو د هوارولو لپاره یو ډېر جامع او ښه پایله لرونکے چلند هڅوي- په ټولنه کښې د بخښنې او پخلاکېدو په اهمیت ټینګار کوي- سربېره پردې، د پښتنو په جرګه سیسټم کښې د کلتوري استعارو مطالعه د پښتني ټولنې د کلتوري ارزښتونو او اقدارو په اړه ښه نظر وړاندې کوي- کلتوري مفکورې او د دوي ژبني بیانونه لا پراخې پوهې ته اړتیا په ګوته کوي-

په پایله کښې به زه دا و وایم چې د پښتنو د جرګو په نظام کښې تر ټولو غټ رول دا کلتوري استعارې لوبوي- او د دې استعارو برکت دے چې لا تر اوسه د جرګو دا نظام فعاله دے-

# حوالې


1. Morgenstierne, Georg, Report on a linguistic Mission to north-western India. P. 10

2- آریانه دائرة المعارف، دریم ټوک، ث.د ، چاپ 2010، د افغانستان اسلامي جمهوریت د علومو اکاډمي، د دائرة المعارف ریاست، مخ 65

3- منګل، سمسور، پښتونولي، دسمبر2017، باچا خان ټرسټ ریسرچ سنټر باچا خان مرکز پېښور مخ29

4-- آریانه دائرة المعارف، مخ 65

5- James Spain (1985), The Pathan Borderland, Karachi; Indus Publication, p69

6- عطایي، محمد ابراهیم، د پښتني قبیلو اصطلاحي قاموس، 2015، دوهم چاپ، د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت، افغانستان.

7- تڼیوال، مولاجان ، ژبه او ټولنه، افغانستان: مومند خپرندویه ټولنه ننګرهار، 2015 مخ 12

8- Crystal, D. (1971). Linguistics. Harmondsworth: Penguin. ---- (1992). Linguistics. Harmondsworth: Penguin. Eliot, T.S. (1961), Notes toward the Definition of Culture, London: Faber and Faber.

9- حسین، خادم، ژبه، قام او ادب، جنوري2020ء ، باچا خان مرکز ګرافیکس ډیزائن ډسک، امن پرنټنګ پریس، پېښور، مخ 100

10 -یوسفزئ، روخان، پختون کلچر کے خدوخال، مارچ2019ء، باچاخان مرکز گرافیکس ڈیزائن ڈسک، امن پرنٹنگ پریس، پشاور، صفحہ 31

11-ایضاً، صفحہ 31

12- مجروح، مشتاق یوسفزے، زرکانړے، 2019ء شپږم اېډیشن، قلندر مومند ریسرچ سېل، مخ 52

13- (The Oxford Dictionary of Literary Terms, 2010 p. 244).

14-زاهد پښتو-پښتو سيند ، دريمه برخه، د افغانستان د علومو اکاډيمي د پښتو څېړنو نړيوال مرکز، دانش خپرندويه ټولنه،مخ 1063

15. Boatman, D. (2004). Language processing and production in a sociolinguistic context. In M. K.

16. (Brown et al., 2006).

17. (Trudgill, 1986).

18. Musolff, A. (2017). Metaphor and cultural cognition. In F. Sharifian (Ed.), Advances in Cultural Linguistics (pp. 325–344). Singapore: Springer Nature. Doi:10.1007/978-981-10-4056-6_15

19. Yu, N. (2007). Heart and cognition in ancient Chinese philosophy. Journal of Cognition and Culture, 7(1), 27–47. Doi:10.1163/156853707x171801

20. (M. Hassan Yousafzai & Ali Gohar 2004, Towards Understanding *PukhtunJirga*, Peshawar, p. 45)

21. Durrani, W. K., Khan, A., & Bibi, S. (2019). An exploration of Pashto dialects in Southern Pashtunkhwa. Journal of Language and Linguistics, 18(2), 431-444.

22- عطايي، محمد ابراهيم، د پښتني قبيلو اصطلاحي قاموس، 2015، دوهم چاپ، د سرحدونو او قبايلو چارو وزارت، افغانستان، مخ ۲۰۵

23-زاهد پښتو پښتو سيند ،مخ 1063

24 - رښتين، صديق الله، پښتني لاربنود ،2010، دويم چاپ، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، مخ41

25 - سنګرمل، سردار محمد ، حقيقت نه پټېږي، 2011، کابل، مخ115

26-زاهد پښتو پښتو سيند ،مخ 271

27 - منګل، پښتونولي، 2017، مخ29،30

28 - رښتين، پښتني لاربنود ، 2010، مخ64

29 -منګل، پښتونولي، 2017، مخ30

30 -زاهد پښتو پښتو سيند ،مخ1004

31 -منګل، پښتونولي، 2017، مخ32

32 -رښتين، پښتني لاربنود ، 2010، مخ35،36

33 -سنګرمل، حقیقت نه پټېږي، 2011، مخ 114

34 -سنګرمل، حقیقت نه پټېږي، 2011، مخ 114

35 -منګل، پښتونولي، 2017، مخ32،33

36-رښتين، پښتني لاربنود ، 2010، مخ37،38

37- حبيبي، عبدالحی، شل مقالې، لسمه برخه، ټولوونکی: مطیع الله روهیال، چاپ رشاد خپرندویه ټولنه کندهار، مخ 208،

38- هم دغه اثر، مخ209،208